# له اسرائيلو سره زمونږ كړكېچ

(قصتنا مع اليهود)



Ketabton.com

ليكوال: د/ علي الطنطاوي.

ژباړن: انوارالحق (عاصم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم اللّه الرحمن الرحيم

زمونږ جگړه خو له يهودو سره نده، يهود څه وخت د جگړې جوگه شول؟ آيا هغه وخت چې دوی ته خپل رسول (موسی عليه السلام) وويل: وجنگيږئ ،دوی وويل: ته او ستا رب دې لاړ شي او وجنگيږئ، او كه هغه وخت چې دوی يې فتحې ته راوبلل الله -جل جلاله- ورته اسباب چمتو او دروازه هم پرانيستې وه خودوی لكه د ډارېدلو مېږو په څېر ولړزېدل او ويې ويل:﴿ **قَالُوا يَا مُوسَى إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدْخُلَهَا حَتَّىَ يَخْرُجُواْ مِنْهَا فَإِن يَخْرُجُواْ مِنْهَا فَإِنَّا دَاخِلُونَ** ﴾ هلته خو ډېر زورور خلك اوسېږي، مونږ به هيڅكله هلته لاړ نشو ترڅو هغوی له هغه ځايه ونه وځي، هو! كه هغوی ووتل نو مونږ د ورننوتلو لپاره چمتو يو.

دا ددوي مېړانې دي، دوی داسې څوك خوښوي چې ددوي پرځای وجنگيږي، داسې څوك خوښوي چې دښمن له كلا نه وباسي اودوی برېمن ورننوځي، ددوی حالاتو تغير ندی كړی ،دوی د پخوا په څېر اوس هم بې زړه دي،دوی د نورو په وسله جنگيږي او د نورو په څواك غورې وهي....

د كتاب له متن څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقریظ

د خواږه قلم او خوږ پیغام خاوند( د،علي طنطاوي صیب) د اثر (قصتنا مع الیهود)، (د یهودو سره زمونږ کړکیچ) ژباړه مې چې قدرمن ورور انوارالحق (عاصم) له عربي پښتو ته کړې وه له سر تر پایه ولوسته، دغه شهکار کتاب چې په اصل کې یوه وړه رساله ده خو ولې د وخت د غوښتنې او د مضمون د محتوا له مخې د یوه لوی چپنل تنده پرې ماتیږي، د ژباړې د انتخاب لپاره جالب ابتکار دی، پدغه رساله کې د اسرائیلو د اصلي څېرې او د فلسطین دلانجمنې توطیې پرده پورته شوې ده، طنطاوي صیب لکه د غورو کولو په ډول د فلسطین او اسرائیلو د سترګو لیدلی حال الفاظو کې انځوروي.

ژباړن هم زیاته هڅه کړې چې دغه سبک وساتي، په ټوله کې دغه رساله د (أقصی طوفان) تاریخي شالید راپه ګوته کوي.

د ټول لوست قشر څخه تمه دا ده چې دا وړه رساله د اقصی او فلسطین په ننګه ولولي او ددې کړکیچ په اصلي څېره ځان خبر کړي.

حبیب الله (منیب ساپی)

د امام ابو یوسف عالي دارالعلوم استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړن سریزه

یهود هغه قوم دی چې د نړۍ پر مخ ځانونه د خدای استازي ګڼي، چې ګواکې د نړۍ د چارو واک خدای دوی ته سپارلی، ددې باور په اساس دوی نور قومونه خپل مریان بولي د هغوی مالونه او ځمکې غصبوي او د حیواناتو په څېر یې د ژوندګۍ اسباب شمېري، ددوی تاریخ له دسیسو او د نورو له تابع کولو ډک دی ددې خبیث فطرت له کبله دوی موږ هم نه یو پرېښې او له پخوا څخه مو ترمنځ کړکېچونه راروان دي هغه مهال چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- مدینې ته هجرت وکړ دوی ټولې کړې ژمنې ماتې او خپل اصلیت یې وښود ، د هغه په خلاف یې دسیسې جوړې کړې، له دښمن سره یې لاس یو کړ ترڅو مسلمانان له منځه یوسي خودوی پدې پلان کې ناکام او له مدینې نه په سپکاوي وشړل شول.

دوی هر وخت د مسلمانانو په خلاف توطئې او سازشونه جوړ کړي دي چې ددې دسیسو په سلسله کې یې د شلمې پېړۍ له پیله په یو خطرناک پلان کار کاوه چې بالاخره په کال (۱۹۴۷م) کې یې د نړیوالو ځواکونو پر مټ خپل شوم پلان پلی او زموږ پاکه خاوره (د فلسطین ۵۷ سلنه) یې لاندې کړه او اصلي استوګن یې ترې وشړل ، بیا په کال (۱۹۶۷م) کې دوی دسیناء او ګولان په اشغالولو سره د مصر لخوا رسمیت خپل کړ او په کال(۱۹۹۳م)کې د فلسطیني ولسمشر یاسر عرفات او اسرائیلي مشر اسحق رابین ترمنځ توافق وشو چې په لوېدیځه غاړه او غزه کې به فلسطینیان خپلواک تشکیلات جوړوي خو اسرائیلو د لویدیځې غاړې (۶۰) سلنه او د غزې دېرش سلنه خاوره نوره هم لاندې کړه، په (۲۰۲۰)کال د پیړۍ معامله چې ټرمپ او د اسرائیلو لومړي وزیر بنیامین نتنیاهو پرې اسرائیلو ته د فلسطین(۸۵) سلنه خاورې په ورکولو توافق وکړ.

اسلامي نړۍ چې څنګه د اندلس(هسپانیا)، ترکستان، بخارا او سمرقند په بایللو غلې پاتې وه د فلسطین په بایللو هم چوپه خوله ده، په ځانګړي ډول زموږ ځوان ټبر د فلسطین هیواد، لومړنۍ قبلې بیت المقدس ، هلته د مېشتو مسلمانانو او د خپل ازلي دښمن (اسرائیل) په هکله هیڅ پوهاوی نلري او نه یې پدې اخ وډب سر خلاص دی، له یوه لورې دې ورروستیو څرګندونو(پیړۍ معاملې) او له بل لورې د مسلمانانو په ځانګړي ډول د خپلو هېوادوالو غفلت زه دېته اړ کړم چې دا رساله وژباړم څو د اسرائیلو له خباثتونو پرده پورته او نوی نسل پرې آګاه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب په لیکلو باندې اگر که وخت ډېر تېر شوی دی خو اوس هم ورته د پښخوا په څېر اړتیا لیدل کیږي او ددې لپاره چې دا کشاله ښه روښانه او د کتاب مطالب په پوره ډول واضح شي، اړینه مې وګڼله چې ددې کشالې اړوند ځینې مواد له ویب سایټونو، اردو او عربي کتابونو څخه راواخلم او د کتاب په پیل کې یې ځای پر ځای کړم ترڅو په روښانتیا سره د طنطاوي صیب وینا ولوستل شي.

د (اقصی طوفان) د طوفاني بریدونو د دوام په هیله

په درنښت

انوارالحق (عاصم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسرائيلو دولت څنګه منځ ته راغی؟

## د اسرائيل لفظ مفهوم:

په تاريخي لحاظ سره اسرائيل د يعقوب عليه السلام لقب دی، د يو خطرناک دښمن سره له غېږ نيولو وروسته ورته ورکول شو، له هغې وروسته د نوموړي قوم ته «اسرائيل» يا «اسرائيلي» ويل کېده، اوسني اسرائيلي رياست وګړو ته اسرائيلي ويل کيږي.

## ارض موعوده:

د بايبل مطابق خدای جل جلاله «اسرائيلي خاوره» چې په عبرانی کې ورته «ارتزيسرائيل» ويل کيږي حضرت ابراهيم، اسحق او يعقوب عليهم السلام نسل ته د ورکړې ژمنه کړې وه، لدې کبله ورته «موعوده خاوره» ويل کيږي.

## د اسرائيلي خاورې موقعيت:

«تناکا» يانې عبراني بايبل کې (چې عيسايان يې عهد قديم The Old Testament بولي) د اسرائيلي خاورې د پولو اړوند بېلابېل خبرونه راغلي دي چې د هغې له مخې اسرائيلي خاوره د مصر له سمندره د فرات سيند پورې سيمې رانغاړي چې د هغې له رويه اوسنی اسرائيلي دولت(State of Israel)، لويديځه غاړه، د غزې تړانګه، شام او لبنان شامل دي، ددې سيمو سربېره د سينا دښته(Sinai Peninsula) هم په اسرائيلي خاوره شامليږي، يهود باور لري چې له مصر نه د بني اسرائيلو تبعيد له دې لارې شوی دی، د يهودو سپېڅلو صحيفو موافق د اردن سيند ختيځه برخه چې د اردن ډېره برخه پکې شامليږي هم د اسرائيلو خاورې برخه ده، ددې صحيفو موافق خدای جل جلاله له مصر نه وتونکو بني اسرائيلو ته د کنعان خاوره «ارتز کنعان» ورکړې وه.

## اسرائيلي خاوره او اسرائيلي دولت:

۲۹ نومبر ۱۹۴۷م کې د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلي يو تړون لاسليک کړ چې د هغې له مخې د فلسطين برطانوي اشغال(British Mandate of Palestine) په اسرائيلي دولت ( State of

(c) ketabton.com: The Digital Library



Israel) منظور کړ، عبراني ژبه کې اسرائیلي دولت ته «مدینات یسرائیل» ویل کیږي چې په عربي کې ورته «دولة الاسرائیل» وایي.

اسرائیلي دولت د جغرافیې له پلوه د روم سمندرګي جنوب ختیځ خواته په لویدیځه اسیا کې پروت دی، د اسرائیلو پلازمېنه یروشلم وټاکل شو البته حیثیت یې لانجمن دی چې له کبله یې ډېری هېوادونو خپلو سفارتونه په تل ابیب کې جوړ کړي دي.

حکومتي نظام له اړخه اسرائیلي دولت یو پارلماني جمهوریت ( Parliamentary Democracy) دی، دا د نړۍ یواځینی «یهودي حکومت» دی چې نفوس یې د بېلابېلو قومونو څخه په یوې ایډیالوژۍ راټول دي.

**ایلیاه او اسرائیل:**

یهود د نړۍ په مختلفو برخو کې مېشت وو، د لومړي ځل لپاره په ۱۸۸۱م کې د عیسایانو له مذهبي زور زیاتي نه د ځان ژغورلو لپاره په هغو سیمو کې مېشت شول چې اوس ورته اسرائیل ویل کیږي، د یهودو دې انتقال ته په عبراني کې «ایلیاه» ویل کیږي، د ایلیاه دویم لامل د موشي هېس سوشلسټ صهیونستي افکار وو، یهودو د عثماني خلافت له مامورینو او عرب بزګرانو نه ځمکو پېرلو سره کلي اباد کړل او بزګري یې پرې کوله چې وروسته له ځایي عربو سره ددوی اړیکې پراخه شوې.

یو استریایي یهودي تیوډ هرتزل(۱۸۶۰-۱۹۰٤ .Theodor Herzl) د صهیونیستي غورځنګ(Zionist Movement) اساس ایښی وو، نوموړي په ۱۸۹۶م کې د «یهودي حکومت» په نامه یو کتاب خپور کړ چې پکې د یو یهودي حکومت د قایمولو غوښتنه شوې وه، په ۱۸۹۷م کې نوموړي لومړنی نړۍ وال صهیونستي کانګرس راوغوښت.

د صیهونستي غورځنګ په پایله کې له ۱۹۰۴م - ۱۹۱۴م په دوران کې د ایلیاه دویمه څپه راپورته شوه چې نږدې څلوېښت زره یهودیان په هغه سیمو کې مېشت شول چې اوس اسرائیل نومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بالفور ډېکلرېشن:

په ۱۹۱۷م کې د برطانيې بهرنيو چارو وزير آرتر جي بالفور(Arthur J. Balfour) د «بالفور ډېکلرېشن»(Balfour Declaration) وړاندې کړ چې په هغې کې د يهودي عوامو لپاره په فلسطين کې يو جلا قومي وطن(National Home) جوړولو غوښتنه شوې وه، په ۱۹۲۰م د فلسطين ليګ آف نېشنز (League of Nations, Mandate Administered by Britain) د برطانيې د څارنې لاندې اشغال شو.

لومړۍ نړېوالې جګړې وروسته په ۱۹۱۹ نه تر ۱۹۲۳ او له ۱۹۲۴ نه تر ۱۹۲۹م کې د ايلياه دريمه او څلورمه څپه راغله، پدې ترخ کې د مېشتو خلکو او يهودو ترمينځ ټکر هم راغی.

په ۱۹۳۳م کې د نازي ازم د انقلاب په پايله کې د ايلياه پنځمه څپه راپورته شوه، په ۱۹۲۲م کې د سيمې په نفوس کې د يهودو وجود ۱۱ سلنه وو چې تر ۱۹۴۰ پورې ۳۰ سلنې ته ورسېد، تر هغه مهاله د سيمې ۲۸ سلنه خاوره د صهيونستي تنظيمونو او يهودو انفرادي ملکيت کې راغلې وه، د هولو کاسټ(whole cost) په پايله کې د اروپا بېلابېلو برخو کې مېشت يهوديان فلسطين ته په راتګ سره مېشت شول د دويم نړۍ والې جګړې پای ته رسېدو پورې په فلسطين کې مېشتو يهودو شمېر څلور لکو ته ورسېد.

۱۹۳۹م کې برطانيه يوه فرمان صادر کړ او فلسطين ته د يهوديانو په راتګ يې محدوديت ولګاوه، له دې مخکې ۱۹۳۶-۱۹۳۹م په دوران کې عربانو پدې قضيې سخت عکس العمل وښود، يهوديانو د ۱۹۳۹م وائټ پيپر د ۱۹۱۷م د بالفور د اعلان مخالفت وباله.

## ځمکتلي يهودي ګروپونه:

کله چې د مېشتو عربانو او له بېرونه راغلو مېشت شويو يهوديانو ترمينځ تاو تريخوالی ډېر شو او د انګرېزانو په پلوۍ کې هم کمی راغی نو يهوديانو د (هګانا Haganah) په نامه دفاعي ګروپ جوړ کړ، وروسته د هګانا څو غړو يو پوځي ګروپ (اِرګن Irgun) جوړ کړ او له هغې وروسته (اوراهام سټرن) د «ارګن» نه په جلا کېدو يو ډېر سخت دريځ ګروپ (ليهي Lehi) جوړ کړی چې په عام عرف کې ورته (سټرن ګينګ Stern Gang) ويل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۴۸م کې د عرب اسرائيلي جګړې په منځته راتګ کې ددې ګروپونو ستر رول وو، له دې پرته له اروپا نه د يهودو انتقال، د اسرائيلو دفاعي ځواک تشکيل، له فلسطينه د برطانيه وتل او د اسرائيلو اوسنيو سياسي ګوندونو په جوړېدو کې دې ځمکڅ تلو يهودي ګروپونو اساسي رول اداء کړی دی.

**اسرائیلي دولت د منځته راتګ اعلامیه:**

د تاوتريخوالي په ډېرېدو، د يهود او عربانو ترمينځ د خبرو اترو له ناکامېدو وروسته برطانوي حکومت په ۱۹۴۷م کې له فلسطيني اشغاله د لاس اخيستلو پرېکړه وکړه.

د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلۍ د ۱۹۴۷م «يو اين پارټېشن پلان» ( ١٩٤٧ UN Partition Plan) صادر کړ چې له مخې يې فلسطين په دوه رياستونو باندې د ويشلو امر يې ورکړ، يهوديانو ته يې ۵۵٪ او عربانو ته يې ۴۵٪ سلنه خاوره ورکړه، ددې پلان له مخې يروشلم د ملګرو ملتونو سيمه وګرځول شوه چې چارې به يې ملګري ملتونه پر مخ وړي، په ۲۹ نومبر۱۹۴۷م د ملګرو ملتونو له لورې د ويش پلان تطبيقولو وروسته سمدلاسه ډېوډ بن ګوريان ومانه خو عرب ليګ رد کړ.

په ۱۴ مئ۱۹۴۸م کې جاري شوي د اسرائيلي دولت د منځته راتګ اعلاميه ددې خبرې ښکاره اعلان وو چې د فلسطين برطانوي اشغال (British Mandate of Palestine) کې يو نوی يهودي رياست منځته راغی، دا اعلاميه د برطانوي اشغال له پای ته رسېدو يوه ورځ مخکې د تل ابيب په موزيم کې د «وادليومي» (يهودي قومي کونسل) غونډه کې ولوستل شو او منظور شو، له منظورېدو مخکې يوه مياشت پدې باندې غور او فکر شوی وو.

په ۱۲ مئ۱۹۴۸م د يهوديانو قومي شورا غونډه وشوه چې پکې پدې غور وشو چې د امريکې له لورې د امن تړون وړانديز ومني يا د نوی رياست د جوړېدو اعلان وکړي، د شورا له لسو غړو څخه شپږو د نوي رياست په منځته راتګ رايه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې اعلان نه څو دقیقې وروسته د امریکا متحده ایالاتو نوی ریاست او ددې حکومت په رسمیت وپېژنده، درې ورځې وروسته د سوویت صدراعظم«ستالن» هم اسرائیل په رسمیت وپېژنده خو عرب حکومتونو او فلسطینیانو یې سخت مخالفت وکړ.

## د اسرائیلي دولت موقعیت:

اسرائیلي دولت (State of Israel) شمال ته لبنان، ختیځ ته شام او اردن، جنوب لویدیځ ته مصر پروت دی، لویځ لور ته یې د روم سمندرګی دی او جنوب ته خلیجي هېوادونه دي.

## د اسرائیلو رسمي ژبې:

د اسرائیل رسمي ژبې (Official Language) عبراني او عربي دي، انګلیسي په عام ډول بهرنۍ ژبه کارول کیږي ، د اسرائیلو په وینا دوی په ۱۴مئ۱۹۴۸م کې له برطانیه نه ازادي اخیستې ده.

## د اسرائیل نفوس:

د ۱۹۹۵م سرشمېرنې موافق د اسرائیل ټول نفوس پنځه پنځوس لکه اته څلوېښت زره پنځه سوه درویشت(۵۵۴۸۵۲۳) وو چې په ۲۰۰٦م کې د یو تخمین موافق شپږ اویا لکه شپږویشت زره نفوس اندازه شوي وو.

د امریکا متحده ایالاتو د سرشمېرنې ادارې د (۲۰۱۷-۲۰۱۸) آټکل له پلوه د ګولان څوکه او ختیځ بیت المقدس د نفوس سربېره اسرائیل اوس (۸٦۷۵۴۷۵) نفوس لري.

چې د نفوس له پلوه اسرائیل په نړۍ کې (۹۸) هېواد دی.

په ګولان فرعي ولسوالۍ کې(۲۲۹۰۰) نفوس او په ختیځ بیت المقدس کې(۲۱۵۹۰۰) نفوس ژوند کوي.

## داسرائیل مساحت او سرحدونه:

په ۱۹٦۷م کې تر کنترول لاندې راغلو سیمو نه پرته د اسرائیل ټول مساحت ۲۰۷۷۰ کیلومتره مربع دی، داچې ختیځ یروشلم او د ګولان څوکې سربېره د اسرائیل قانون لاندې راغلو سیمو مساحت ۲۲۱۴۵ کیلومتره مربع دی.

ټوله ۲۲۱۴۵ مربع کیلو میتره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکه: ۲۱۷۰۵مربع کيلو ميتره

اوبه: ٤٤٠ مربع کيلو ميتره

د مساحت له پلوه دا هېواد په نړۍ کې۱۵۳ هېواد دی.

يادونه: اسرائيل کومې ټاکلې پولې نلري دوی د خپل پلان موافق مخ په وړاندې روان دي او يو په بل پسې سيمې لاندې باسي.

سرحدي هيوادونه : مصر ٦ ۲۰٦ کيلو ميتره ، د غزې تړانګه: km ۵۹ کيلومتره ، اردن: ٦ ۳۳٦ کيلومتره ( km ۲۰)کيلومتره په مړه بحر کې دننه ده ، لبنان ۷ ۱۰۷ کيلومتره ، سوريه km ۷۹ کيلومتره ، لويديځه غاړه ۸ ۲۷۸ کيلومتره

## د اسرائيل په تاريخ کې مهمې پېښې

برتانيې د فلسطين اشغال پای ته رسولو نه يوه ورځ مخکې يانې ۱۴مئ ۱۹۴۸ کې د اسرائيل دولت د جوړېدو اعلان وکړ، له دې وروسته مصر، شام، اردن، لبنان او عراق سره د اسرائيل جګړه پيل شوه دېته د ۱۹۴۸م عرب اسرائيل جګړه ويل کيږي، د جون په پيل کې ملګرو ملتونو د يوې مياشتې لپاره اوربند وکړ چې پدې ترخ کې اسرائيل په رسمي بڼه د «اسرائيلي دفاعي ځواک» تشکيل کړ، په ۱۹۴۹م کې اوربند وشو او د «ګرين لاين» په نامه عارضي پولې وټاکل شوې، اسرائيل ته يې د أردن سيند لويديځ ته د اشغال شوې سيمې (۲٦)سلنه نوره برخه هم ورکړه، اردن په جوډيا او سماريا باندې ولکه ټينګه کړه چې په لويديځه غاړه مشهور ده، مصر په يو ساحلي سيمه ولکه ټينګه کړه چې د غزې تړانګه ورته ويل کيږي.

د جنګ له کبله د نوي جوړ شوي اسرائيلي رياست نه عربان وکوچېدل، چې د ملګرو ملتونو د اټکل له مخې اووه لکه يوولس زره فلسطينيانو خپل کورونه پرېښودل.

د اسرائيل د جوړېدو نه وروسته په يو کال کې دننه له عرب خاورې او اروپا نه د راغليو يهوديانو له کبله د اسرائيل نفوس دوه برابره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹۵۴ او ۱۹۵۵م کې د اسرائيل لومړي وزير «موشي شيريټ» د واک پر مهال د «ليوان افيئر»(Levon Affair) له کبله اسرائيل په سياسي ډګر کې د رسوايۍ سره مخ شو، د «ليوان افيئر» په پايله کې په مصر کې د بمي چاودنو ناکامه هڅه وشوه، ددې په عکس العمل کې مصر د سويزکانال واخيست چې پدې برطانيې او فرانسې سخت غبرګون وښود، ددې پېښې او استشهاديانو د پرلپسي بريدونو نه وروسته اسرائيل د دواړو زبرځواکونو سره پټ لاس يو کړ او د مصر په خلاف جګړه پيل کړه، د سويز بحران په پای ته رسېدو سره برطانيه، فرانسه او اسرائيل په ملګرو ملتونو کې له خورا رسوايۍ سره مخ شو او اسرائيل د سينا له دښتې خپل پوځونه راوغوښتل.

په ۱۹۷۶ مئ کې اسرائيل له مصر، اردن او شام سره جګړه پيل کړه چې شپږ ورځې و غځېده دېته شپږ ورځنۍ جګړه(Six Day War) ويل کيږي.

۱۹۶۷م کې يو اسرائيلي هوائي الوتکې په (ايس ايس لبرټي) باندې بريد وکړ چې په پايله کې ۱۳۴ امريکايي پوځيان ووژل شول، امريکايي او اسرائيلي پلټونکو ددې پېښې پلټنه وکړه او دې پايلې ته ورسېدل چې دا يوه درددوونکې پېښه وه چې د «لبرټي» په پېژندنه کې د شک پر بنياد منځ ته راغله.

۱۹۶۹م کې «ګولډا مائر» د اسرائيل لومړۍ وزيره وټاکل شوه، تر اوسه پورې دا د اسرائيل يواځينۍ لومړۍ وزيره وه.

۱۸۶۸م نه تر ۱۹۷۲م پورې له شام او مصر سره اسرائيل د پولو پر سر شخړې وشوې، له دې پرته په ۱۹۷۰م د لسيزې په پيل کې فلسطيني ګوريلا په اسرائيل او نورو هېوادونو کې د اسرائيلو په اهدافو  بريدونه وکړل ددې بريدونو په سلسله کې ۱۹۷۲م کې د ميونخ اولمپيک لوبو په دوران فلسطيني ګوريلا اسرائيلي لوبغاړي ووژل، اسرائيل ددې بدلې اخيستلو لپاره «د الهي قهر عمليات» په پايله کې موساد د خپلو ايجنټانو پر مټ ميونخ کې د اسرائيل لوبغاړو په وژنه کې برخه اخيستونکي ډېری فلسطيني ګوريليان ووژل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶ اکتوبر ۱۹۷۳م د یهودو د روژې په ورځ «کپور ورځ» مصر او شام په اسرائیل برید وکړ، دېته د «رمضان جګړه» هم ویل کیږي، ددې جګړې هدف د هغه ځمکو بېرته لاسته راوړل وو چې په ۱۹۶۷م جګړه کې اسرائیلو لاندې کړې وې، پدې جګړه کې اسرائیلو ماته ونه خوړه البته دې جګړې سره پیدا شوې سیاسي زلزلې امریکا سفارتي ګډوډۍ ته اړ کړه چې دا ګډوډي د ۱۹۷۹م په پای کې د اسرائیل او مصر ترمنځ د امن تړون سره له منځه لاړه، دې جګړې د اکتوبر له شپږمې د اکتوبر تر ۲۵ پورې دوام وکړ.

په ۱۹۷۴م کې د ګولډا مائر له استعفاء وروسته یتزاک(اسحق)رابن لومړی وزیر شو، دا د اسرائیل پنځم لومړی وزیر وو، په ۱۹۷۷م کې د «میناکیم بیګن» په مشرۍ «لیکوډ» حزب واک ته ورسېد پدې کال نومبر کې د مصر صدراعظم انور سادات د اسرائیل تاریخي دوره وکړه، نوموړي «کنیسیټ» ته وینا وکړه، دا د اسرائیل عرب ګاونډیانو لخوا په رسمیت پېژندلو لومړی فرصت وو، له دې دورې وروسته دواړو هېوادونو ترمنځ دخبرو اترو څو ناستې وشوې چې په پایله کې د «کیمپ ډېوډ تړون» منځ ته راغله، په ۱۹۷۹م مارچ کې بیګن او انور سادات په واشنګټن کې «اسرائیل او مصر امن تړون» باندې لاسلیک وکړ، د تړون موافق اسرائیل د سینا له دښتې خپل پوځیان وویستل، اسرائیل پدې تړون کې فلسطینیانو ته د خپلواکۍ د ورکړې ژمنه هم وکړه.

۱۹۸۱م د جولای په اوومه اسرائیل هوایي ځواک د عراق په (نیوکلیئري ایکټر) باندې هوایي برید وکړ، ددې برید هدف عراق له اټوم بم جوړولو نه منع کول وو.

۱۹۸۲م کې اسرائیل پر لبنان برید وکړ، په رسمي ډول ددې برید لامل دا بیان شو چې د شمال له لورې پر اسرائیل د ترهګریزو بریدونو شنډول دي، اسرائیلي دفاعي ځواک د لبنان پلازمېنه بیروت باندې ولکه ټینګه کړه او د فلسطین ازادي تنظیم( Palestine Liberation Organization-PLO) پوځونو هېواد پرېښود، (PLO) په تونس کې خپل دفترونه پرانېستل، ددې جګړې په دوران کې د حالاتو بوج نه زغملو له امله لومړي وزیر بیګن استعفاء ورکړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ځای یې یتزاک شامیر لومړی وزیر وټاکل شو، اګر چې اسرائیل په ۱۹۸۶م کې له لبنانه ووتل خو د ۲۰۰۰مۍ پورې یو (بفر زون) جوړ کړ.

۱۹۸۰م لسیزې په دروان کې اسرائیلي سیاست کې اړین بدلونونه راغلل، د یتزاک شامیر په مشرۍ ښي اړخو باندې د شمعون پیریز په مشرۍ کین اړخي مخکې او واک ته ورسېدل.

په ۱۹۸۷م کې لومړنی پاڅون«انتفاضه» پیل شو او په نیول شویو سیمو کې ورسره تشدّد وشو، د لومړني پاڅون وروسته ۱۹۸۸م کې شامیر بېرته لومړي وزیر کېدو باندې بریالی شو.

۱۹۹۰م لسیزې په پیل کې له (سوویت یونین) نه ډېر شمېر یهودیان اسرائیل په راتګ سره مېشت شول، د بېرته راګرځېدو قانون(Law of Return) له مخې دوی ته له رارسېدو سره سم تابعیت ورکړل شو، یواځې ۱۹۹۰-۹۱م کې نږدې درې لکه اتیا زره یهودیان له سوویت یونین نه اسرائیل ته راغلل، نوي مېشت یهودیان په پیل کې د ښي اړخو حمایت کاوه لیکن وروسته د «لیبر» ګوند غړي شول، ۱۹۹۲م ټاکنو کې دوی لیبر ګوند ته رایه ورکړه او د ۱۹۹۲م کنیسیټ ټاکنو کې لیبر اکثریت رایې ترلاسه کړې، له ټاکنو وروسته یتزاک رابن د کین اړخو حزبونو یو متحد حکومت جوړ کړ، لیبر حزب اسرائیلي وګړو سره دا ژمنه کړې وه چې له ټاکنو وروسته به د شپږو تر نهو میاشتو په دروان کې ددوی سلامتیا او ساتنه باوري کوي او له عربانو سره به سوله کوي، د ۱۹۹۳م کال په پای کې اسرائیل له (PLO) سره د «اوسلو تړون» وکړ.

۱۹۹۴م کې لبنان له اسرائیل سره د سولې په کولو سره دویم ګاونډي هېواد شو، د تړون په مخالفت کې حمّاس له تشدّد ډک فعالیتونه پیل کړل، بلې خوا ته اسرائیل کې سخت دریځه یهودیانو غبرګون وښود، په ۱۹۹۵ د نومبر په څلورمه یو سخت دریځه یهودي «یګال امیر» لومړی وزیر یتزاک رابن وواژه، له دې پېښې څخه د عوامو له راپورته شوي پاڅون نه اټکل کېده چې ۱۹۹۶م ټاکنې به د یتزاک رابن ځایناستی او د اوسلو تړون آر کی ټیکټ شمعون پیریز ګټي خو د لیکوډ حزب بنیامن نیتن یاهو نه په لږ توپیر سره ماتې وخوړه.

نیتن یاهو د اوسلو تړون سرسخت مخالف شمېرل کېده، نوموړي (هیبر ون) خالي کړ او (Palestine National Authority) ته یې ډېر واکونه ورکړل، د نتن یاهو په حکومت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسرائیل باندې د فلسطینیانو ګوریلایي بریدونه بند شول خو د نوموړي حکومت په ۱۹۹۹م کې پای ته ورسېد، ۱۹۹۹م ټاکنو کې د لیبر حزب مشر ایهود بارک نتن یاهو ته سترې ماتې ورکولو سره لومړی وزیر شو.

د ۲۰۰۱ مارچ کې ایریل شیرون لومړی وزیر شو.

اسرائیل ګرین لاین سربېره ۶۸ کیلومتره اوږده پوله جوړه کړه چې پدې سره ملګري ملتونو او اسرائیلي کین اړخو سخت غبرګون وښود.

د ایریل شیرون د عصبي رګونو شلېدو نه وروسته ایهود اولمرت د انتقالي دورې لومړی وزیر شو.

د ۲۰۰۶ اپریل په څوارلسمه «قادیمه» ګوند په ټاکنو کې ډېرې څوکی وګټلې، پدې ډول ایهود اولمرت په رسمي توګه لومړی وزیر شو.

صهیونیستی رژیم په ۲۰۱۲ کال د نوامبر په ۱۴ دحماس نظامي شاخه (عزالدین قسام) معاون احمد الجعبري ترور کړ او د غزې مظلوم ولس په وړاندې یې د جنګ اعلان وکړ چې په نهایت کې ۱۶۳ فلسطینیانو شهادت او ۱۳۰۰ نفرو په ژوبلولو سره د لوی خدای (ج) په نصرت د غزې مجاهدینو مقاومت او ثبات په نتیجه کې شکست وخوړ.

د صهیونیستي تجاوزاتو په مقابل کې د فلسطین مقاومت هم دخپلو مظلوم ملت نه ددفاع په منظور په مقابله لاس پورې کړ او صهیونیستانو ته یې غاښن ماتوونکی ځواب ورکړ چې ددې رژیم مشران یی غافلګیره کړل د تیرو جګړو برخلاف ۸ ورځنی جنګ باوجود ددی چې یو لنډ مدت یی دوام وکړ خو دښمن ته یې درانده زیانونه واړول او دلومړي ځل لپاره د فلسطین مقاومت (۵) فحرراکټونو د تل ابیب او بیت المقدس ښارونه دهدف لاندې ونیول او ددې ښارونو د اوسېدونکو طبیعي ژوند یې مختل کړ او لوی وحشت یې پکې خپور کړ. همدارنګه مقاومت وکولای شول یو نظامی بلګرد (نظامي طیاره) او دوه طیارې دصهیونیستي رژیم د غزی په فضا کې د هوا ضد راکټونو پر اساس او ددې تر څنګ دوه جنګي کښتۍ دغزې په اوبو کې هدف لاندې ونیسي چې دغه کامیابي ددې باعث شوه چې مقاومت په دې جګړه کی بری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه کړ. دصهيونيستې ښارونو او ښارګوټو په طرف ۱۵۰۰ راکټونو او توپونو په ويشتلو سره (۵) ميليون صهيونيستانو پناه ځايونو ته پناه يوړه، درې نظامي صهيونيستان هم د مقاومت په دې حملاتو کې مردار شول ، د تل ابيب په زړه اتويوس کی دانفجار پر اساس ۲۷ نفره زخميان شول او دصهيونيستانو وحشت يې نور هم زيات کړ. د فلسطين د مقاومت عمومي مشر ددی انفجار مسئوليت په غاړه واخيست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

# له اسرائیلو سره زمونږ کړکیچ

طنطاوي صیب

د نورو امتونو په څېر اسلامي امت هم د تاریخ په اوږدو کې خورا ډېرې برياوې ،ماتې، ښې او بدې ورځې لیدلې دي لیکن اوسمهال چې دا امت له کوم ناوړه حالت سره مخ دی له دې مخکې ورسره هیڅکله نه وو مخ شوی، دښمنان یې پر وړاندې دامونه غوړوي، د جنګ لپاره یې په لویه سطحه پلانونه جوړوي او ډېر لګښتونه پرې کوي چې تر شایې ستر ستر دولتونه دي، خو ددې ټولو سربېره مونږ له فتحې نه نهیلي کېږو؛ ځکه الله -جل جلاله- په دنیوي او اخروي چارو کې دځان لپاره ځانګړې تګلارې لري چې هیڅ تغیر نه مومي، دا د هغه تګلارو په څېر دي چې الله -جل جلاله- د وجود لپاره وضع کړي دي، موخه مې هغه قوانین دي چې مونږ یې طبیعي قوانین بولو، چې د وخت او ځای تغیر پرې کوم اغېز نه کوي: د بېلګې په ډول د نړۍ له پیدایښت سره سم الله -جل جلاله- د جاذبیت قانون وضع کړ چې څه موده وړاندې (نیوټون)کشف کړ، دا قانون په هغه هېوادونو کې پلی کېږي چې د استواء کرښې ته نږدې دي او له تودوخې لمبې وهي، او په هغه غرونو کې هم چلېږي چې د( شمالي او جنوبي) قطبونو څنګ ته دي او لوړې څوکې یې واورو پوښلې دي، دا اوس هم هغسې دي لکه څو پېړۍ وړاندې چې وو او تر پېړیو، پېړیو به همداسې وي له دې الهي تګلارې دوه خبرې رامالومېږي یوه دا چې (عاقبت د تقوی دی)، او بله دا چې باطل اګر که شور ډېر لري خو حق تل برلاسې وي.

کله چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- له دې نړۍ سترګې پټې کړې، عربان له دین نه مرتد شول ، غوښتل یې چې د دین یو رکن چې زکات دی له منځه یوسي او خلکو هم وانګېرله چې دا د اسلام پای ده خو پدې وخت کې یو تن راپورته شو د قران توغ یې په لاس کې واخیست او محمدي توره یې پورته کړه تردې چې مرتد شوي بېرته دین ته راوګرځېدل او اسلام له مخکې نه هم غښتلی شو.

هغه مهال چې زمونږ په خلاف ټوله اروپا راوخوځېده د صلیبیانو د لښکرو لومړی سر په قسطنطینیه او اخر سر یې د اروپا په زړه کې وو، پرلپسې بریدونه یې وکړل، حالات سخت شول، په شام کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې دولتونه او امارتونه هم جوړکړل، نږدې نوي کلونه يې بيت المقدس هم په واک کې وو خو بيا الله -جل جلاله- بری حق ته ورکړ.

هغه مهال چې د صليبيانو په څېر له ختيځه د مغلو سېلاب راوبهېده ، دولتونه يې له منځه يوړل، خوښۍ يې په غمونو بدلې او د وخت ستر ستر ښارونه يې په غېږ کې واخيستل: د بغداد ښار چې هغه وخت پکې مليونونو انسانانو ژوند کاوه، د نړۍ پلازمېنه وه او د هر ډول ښکلاګانو مرکز وو، کتابونه يې د دجلې سيند ته ګوزار شول تردې چې دواړو غاړو ته يې اوبه تورې واوختې، پدې سياهي کې د ذهنونو لاسته راوړنې ، د مغزو توليد او دانساني فکر جوهر له منځه لاړ.

له دې وړاندې او وروسته چې په مسلمانانو کومې ستونزې او مصيبتونه راغلي دي هيڅ د پام وړ زيان يې ندی اړولی، ځکه اسلامي امت پوهېده چې څنګه وسلې ته لاس اوږد کړي او د دښمن په خلاف يې وکاروي، پوهېده چې څنګه څراغ روښانه کړي او چاپېره تياري پرې لمنځه يوسي، هغه څراغ قران وو، هغه وسله د مؤمنانو زړونه، مفکر عقلونه او کاريګر لاسونه وو چې د دښمن پر وړاندې قوت برابرولو باندې پوهېدل او موخه يې د دنيا حصول نه بلکې يوازې د رب رضا وه، چې په پاي کې دا امت په استعمار وازمويل شو.

★★★

ما د دې (شلمې) پېړۍ په پيل کې نړۍ ته داسې مهال سترګې وغړولې چې په اسلامي نړۍ کې يوه سيمه هم د استعمار له پنجو آزاده نه وه پرته له دې جزيرې (عربستان) نه چې الله -جل جلاله- د پرديو لښکرو له پل کېښودلو او بيرغ رپولو څخه ژغورلې وه، ما په کوچنيوالي کې انګېرله چې له خپلې خاورې د اشغالګرو شړل ترټولو سخت کار دی خو الله جل جلاله دا سخته اسانه کړه، لرې يې رالنډ کړ او اسلامي هېوادونه بېرته خپلو څښتنانو ته په لاس ورغلل .

دا خپلواکي وړيا نده راغلې بلکې مونږ خورا ډېرې ستړياوې وګاللې، سرونه مو قربان کړل، وينې مو توې شوې، جهاد مو وکړ، تورې مو ماتې شوې او هر هغه څه مو وکړل چې په وس مو پوره وو.

دويم نړيوال جنګ پاي ته ورسېد، خو نابېره له مخکې نه هم په خورا بد حالت وازمويل شو، مونږ په بدترين مخلوق او رذيل امت (يهوديان) باندې وازمويل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی نه د موسی علیه السلام پیروان دي او نه هم پرې ایمان لري، بلکې دوی په موسی او عیسی علیهماالسلام باندې داسې کافر دي لکه په محمدصلی الله علیه وسلم چې کافر دي،دوی خپل دین تغیر کړی او ډلې، ډلې شوي، ددوی لارې جلا دي خو زمونږ په دښمنۍ کې یې اهداف سره یو دي.(۱)

کله چې د اسلام پر وړاندې د جنګ موقف ونیول شي نو ټول زمونږ په خلاف ودرېږي. امریکا او روسیه د یو بل پر خلاف د جنګ په تیاریو بوخت وو. لیکن کله چې دا بې پلاره (اسرائیلي) دولت وزیږېده او بدشکله څېره یې منځته راغله ، نو دې دواړو دولتونو یې په رسمیت پېژندلو او د زېږون په مبارکیو کې له یو بل سره مسابقه پیل کړه مخکې له دې چې عمر یې د یوې ورځې او شپې شي . مونږ په یهودانو وازمویل شو.

★ ★ ★

یهودان انګېرې چې دوی باندې تېری وشو، دوی تعذیب شول ، هټلر ددوي مونږ وویست او اولادونه یې ور ووژل، نو د نړۍ سترو دولتونو زړونو کې پردوی (رحم!) راغی او ویې غوښتل چې یو دولت ورته جوړ کړي ، خودوی نوره خاوره ونه مونده، مونږ یې په زور له خپلو مېنو وویستلو، په خیرات کې یې زمونږ هېواد ورکړ، د متمدّنو خلکو وزیر!(۲) چې دهوسیو په جامه کې لېوان دي راغی او ژمنه یې ورسره وکړه چې د اسلامي هېوادونو په منځ کې به ورته پناه ځای ورکړي : هغه څه یې ورته ډالۍ کړل چې ده یې پخپله واک نه درلود اودوی هم ددې ډالۍ وړ نه وو، د بشر په تاریخ کې دا له شرمه ډکه هغه قضیه ده چې اوس او په تېر کې کوم ساری نلري، نن دوی مونږ اوربند او سولې ته رابولي په سپین سترګۍ سره وایي: آیا سوله غوره نده، ولې وینې تویې شي؟ او ولې مرګ ژوبله وشي؟.

---

۱- دکتور وهبه الزحیلي رحمه الله ددې ایت ﴿وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ﴾ په تفسیر کې وایي چې مونږ د یهودو او نصاراوو ترمنځ دښمني او بغض اچولی دی، هره ډله یې له بلې سره کلک مخالفت لري لکه الله تعالی فرمایي: ﴿تَحْسَبُهُمْ جَمِيعاً وَقُلُوبُهُمْ شَتَّى﴾.(الحشر:۱۴) پخوانی او معاصر تاریخ ددې ثبوت وړاندې کوي چې ددوي ترمنځ خورا ډېر عنصري، دیني او استعماري جنګونه راغلي دي، خو څوک دې په فلسطین کې د یهودو په توافق باندې نه غولېږي ځکه دا لنډ مهاله توافق دی چې ډېر ژر به له منځه لاړ شي. ان شاءالله (ژباړن)

۲- لورد بلفور هغه مهال د انګلستان د بهرنیو چارو وزیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه سوله چې دوی ورته مونږ رابولي دداسې غل سره سوله ده چې ستا په کور درننوځي، د کورنۍ ځینې غړي دې ووژني، ستا د کور یوه برخه کې استوګن شي خو کله چې ته د هغه ویستل غواړې نو وایي: دې (ترهګر) ته وګوره...

او د ترهګرۍ(۱) پر وړاندې جنګ ته خلک هم رابولي!.

مونږ راپورته شوي یو او له خپلې خاورې دفاع کوو، دا دفاع زمونږ حق دی، داسې به څوک وي چې د خپلې خاورې په اشغال چپ پاتې کیږي؟ آیا امریکا او برطانیا دا خوښوي چې یو دښمن یې د واشنګټن او لندن د خاورې څه برخه اشغال کړي، وژنې، لوټمار وکړي او د سترو جرائمو مرتکب شي؛ بیا ووایي چې: جنګ د څه لپاره؟ راځئ چې سوله وکړو.

★★★

مونږ په کال ۱۹۴۸م کې وجنګېدو او د بري څرکونه هم ولګېدل خو دوی(امریکا او برطانیه) مونږ په جبر سره سولې ته اړ کړو(۲)، زمونږ لاسونه یې وتړل، د دښمن په لاس یې ورکړو، زمونږ ځواک او تجربه کمه وه نو په لومه کې یې واچولو، د یهودانو لاس هم ترمونږ راورسېد او د بې زړه په څېر ګوزار یې وکړ، بې زړه انسان چې کله فرصت پیدا کړي نو په ټول ځواک سره یو دم ګوزار کوي چې د بل ګوزار توان بیا نلري، او د شپې په تیاره کې ګوزار کوي چې یا خو پکې نجات ومومي او یا پکې سر وخوري.

خو اوس شپه پای ته ورسېده، ویده هم بیدار شول، کوچنی هم رالوي او تنه یې غښتلې شوه، آیا تاسې هغه نیالګي لیدلي دي چې د سرکونو غاړو ته کېنول کیږي د ډېرې نازکتیا نه د اوسپنې پنجرې ترې چاپېریږي ، پدې پنجرو باندې تکیه کوي او پکې بند وي خو چې کله یې تنه ځواکمنه او په ځان بسیا شي، نو پنجره ترې لرې شي ، یا یې ځېلی له پنجرې تاو شي او په ځان کې یې راونغاړي.

نن مونږ هم ددغې ونې په څېر یو چې تنه یې غښتلې شوې، یو وخت مونږ د تازه نیالګي په څېر وو چې تکیه ته اړ وو چې ځان پرې نېغ کړو.

---

[۱]-مونږ هره ورځ اورو چې یو فلسطیني د ترهګرۍ (اشغال پر وړاندې مقاومت) په تور بندي شو، آیا د یو حرامي مجرم پر وړاندې مقاومت هم ترهګري ده چې ستا کور یې اشغال کړی وي؟.

[۲]-پدې جګړه کې زمونږ ځواکونه بري ته نږدې وو چې امریکا او برطانیه پر مونږ فشار راوړ ، پر مونږ یې د وسلې پلور ودراوه مونږ اوربند ته اړ شو او لاسته راغلې بریا مو له لاسه ووتله(ژباړن).

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس هرڅه څرګند او خپل اصلي حالت ته راوګرځېدل، ددوی له اصلي څېرې پرده پورته شوه او خلکو يې اصليت وليد، او دا د رمضان جګړې پورته کړه (موخه مې د اکتوبر جګړه وه)(۱)، له دې جګړې وروسته اسرائيل په خپلو نظر کې هم سپک شو او ددې مبارک حرکت پر مټ ددوي سپکاوی نور هم زيات شو دوی د هغه بال په څېر دي چې کوچنيان پرې لوبې کوي خو چې لږ سوری پکې وشي نو هوا ترې ووځي، اسرئيل وشرمېدل او حقيقت يې مخې ته راغی، حتی داسرائيلو راديو هم له دې وروسته مسخره شوه او خپل باور يې له لاسه ورکړ ترددې هغه اشتهارات او رسنۍ هم پروپاګند شوې چې دوی پرې خلک ډارول، اسرائيلو د کرايسکي- چې د نمسا دولت مشاور وو-(۲) په مرسته هيڅ هم ونکړل سربېره پردې چې دی يهودي وو خو بيا يې نصرانيت ومانه، اسرائيلو هغه وډار کړ، دهغه پر مټ يې د متحدينو مرسته راجلب کړه، په ټول ځواک سره يې پر هغه فشار راوړ ترددې چې نيکسون په خپله داخل شو، زَره او بدبخته کولدا مائير په خپله لاړه ترڅو په (شوناو) کې د شر لاره بيا پرانيزي چې اسرائيلو ته ترې (۸۰) زره پوهان، کارګران او صنعت کاران تېر شول ترڅو زمونږ په خلاف جګړه کې د اسرائيلو پوځيان شي، خو اسرائيل د خپلو رسنيو، متحدينو او لومړي وزير په سپکېدو سره ناهيلي راستانه شول، او دا د رمضان په جګړه کې وشول.

★★★

اسرائيلو فرياد او شکايت کاوه چې مونږ پرې د ښښنې مياشت کې بريد وکړ او ددوی د مقدساتو عزت مو ونکړ...! زه لومړی دا پوښتنه کوم چې اسرائيلو ته چا وويل چې دا د ښښنې مياشت ده او يوه ورځ پکې ځانګړې ده؟ اسرائيل دروغ وايي. الله -جل جلاله- هغه چاته ښښنه نه کوي چې شرک ورسره وکړي او اسرائيلو خو هغه وخت شرک وکړ کله چې دوی وويل عزير عليه السلام د الله زوی دی، الله -جل جلاله- له دې خورا لوی دی چې د هغه دې اولاد وي او نه د هغه په څېر څوک شته، الله -جل جلاله- هغه چاته ښښنه نه کوي چې پيغمبران يې وژلي، دروغجن يې ګڼلي، تورونه يې پرې لګولي او دوی خو د جرائمو په قاموس کې داسې يو جرم ندی پرېښی چې دوی يې

[1]-دا جګړه په (۱۹۷۳) کې د مصر او سوريه له لورې د بدر عملياتو په نامه پيل شوه د جولان له لورې سوريه او د سيناء له لورې مصر راغی ترڅو د (۱۹٦۷) جګړې د تلفاتو جبيره وکړي، په پوره ځواک سره يې اسرائيلو ته ګوزار ورکړ ترددې چې د اسرائيلو لومړي وزير(موشه دايان) خپله د ماتې اعتراف وکړ، د اسرائيلو په ماتې امريکا د مصر په نظامي مداخلې انور سادات تهديد کړ او بالاخره اوربند پدې شرط وشو چې اسرائيل به د (٦۷) جګړه کې ټولې اشغال شوې سيمې تخليه کوي .(ژباړن)

[5]: نوموړی د نمسا مشاور ؤ- نمسا د اروپا يو دولت دی، پايتخت يې فينيا نومېږي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارتکاب نه وي کړی، نو د ښښنې دا کیسې پرېږدئ!، ستاسو مخې ته يوازې اور دی ، په دنيا کې به (دالله- جل جلاله- په مرسته) زمونږ په لاسونو ورننوځی او د آخرت اور خو نور هم سخت دی.

اوپاتې شوه د مقدساتو خبره! اسرائيل څومره بې حياء دي!... آيادوی د چا د مقدساتو خيال کړی دی چې اوس د خپلو مقدساتو د عزت غوښتنه کوي په تېره بيا چې کوم تقدس هم نلري؟ آيادوی د اقصی مسجد ونه سوځاوه؟ آيادوی د هغې بنيادونه ونه لړزول؟ د هغې ستنې يې ونه خوځولې ترڅو راپرېوځي؟ آيادوی د دېوال بېخ ونه کينده؟- ترڅود ځمکې تل ته کوز شي-دوی غوښتل هغه ځاي ته ورسيږي چې لاندې ترې سليماني هيکل دی- او فاصله يې دپنځلس متره ډېره وه. د دوی مخې ته يوازې د اقصی دېوال وو که دوی د کلا څنګ ته پنځه متره نوره کيندنه د دېوال پرځولو لپاره کړې وای نو مسجد به يې نړولی وای.

آيادوی د قيامه کليسا تخريب او پليته نکړه چې نصاراؤ ته يې تقدس درلود؟دوی هغه کليسا هم غلاکړه لکه څنګه چې يې مسجد وسوځاوه!...

دوي غله او تخريب کار دي، دوی فرياد او شکايت کوي چې مونږ د اختر پر ورځ پردوی بريد وکړ،دوی فلسطينيانو ته کوم اختر پرېښود چې خوښي پکې وکړي؟ دې مجرمانو خو د هغوی اخترونه هم ماتم کړل.

آيا اسرائيلو کوم ناروغ ته پام وکړ؟ ، آيادوی روغتونونه ونه نړول، ناروغان ، ډاکټران او نرسانې يې ونه وژلې؟

آيادوی د کوچنيتوب خيال وکړ چې له خلکو غواړي ترڅو ددوي د کوچنيانو خيال وکړي؟.

تاسې ته به ياد وي په وار، وار مې درته ويلي وو چې اسرائيل هغه ډول ندي څنګه چې تاسې انګېرئ ، داخو ګيدړ وو په مردارو به ګرځېده، د لېوه پوستکی يې وليد يا ورته چا ورکړ وايې غوست، له ځان سره يې د لېوه ثبت شوی غږ واخيست، نو خلکو پرې هم د لېوه ګمان وکړ، خلکو هم بې تپوسه ومنل او ددوی هم پر ځان باور راغی.

خلکو انګېرله چې داسرائيلو استخبارات د نړۍ ترټولو قوي استخبارات دي، زمونږ ناسته ولاړه هر څه باندې پوه دي، تردې چې ځينو انګېرله (أستغفرالله) چې زمونږ له زړونو هم خبر دي، همدغه اسرائيل وو چې په رمضان کې پرې هجوم وروړل شو استخباراتو يې هيڅ توان ونه موند چې زمونږ د لښکرو پل مالوم او يا يې کوم څرک ولګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله -جل جلاله- دې مشرانو ته هم ډېر خیر ورکړي چې له (۹٦۷) جګړې نه یې د راز پټ ساتل زده کړي وو بلکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مبارک سیرت نه یې زده کړي وو چې څنګه یې د مکې د فتح په ورځ د خپل لس زره کسیز لښکر تحرکات پټ وساتل چې په عربي جزیره کې هغه مهال تر ټولو ستر لښکر وو، پدې کې د هرې قبیلې کسان وو خو پردې سربېره یې ټولې هغه لارې وتړلې چې قریشو ته ترې خبر رسېده.

د بدر برېمنې معرکې نه وروسته ماتې خوړل، ولَو که د رسول الله صلی الله علیه وسلم او مشرانو اصحابو ټینګ پاتې کېدلو ماته په بري بدله کړه خو دا ددې لپاره چې جنګ نوبتي دی ، وخت د څرخ په څېر دی، نړۍ شپه او ورځ ده (بدلېږي رابدلېږي)، ځمکه په نېغه ختل او ښکته کوزېدل دی، لیکن اعتبار پای ته دی، ټولې چارې په اختتام پورې تړلې دي، نو ان شاء الله راتلونکی زمونږ دی، د دین اسلام دی ، ترڅو چې مونږ په اسلام ټینګ یو بری زمونږ دی.

په رمضان کې چې مونږ څه وکړل خورا حیرانوونکي وو، تاسې فکر وکړئ د شګو یوه همواره غونډۍ چې شل متره ارتفاع ولري که تاته یې د ختلو دنده درکړل شي نو په ختلو به یې ستړی شې، په تېره بیا چې کله یې پر سر چاپېره کسان ناست وي تا په کاڼو ولي او له ختلو دې بندوي ، په تېره بیا چې د کاڼو پرځای مرمۍ او بارود وي او په تېره بیا چې د شګو ددې ډیري پرځای سخت کاڼي او کلک سیمنټ وي، په هغې کې ټانکونه او توپونه نصب وي، څنګه د مصر پوځ له منځه یوړل؟!، تر ټولو غښتلې عصري او دفاعي کرښه چې (۲۸۳) ملیونه ډالر لګښت پرې راغلی وو دوی پرې په خورا پخوانۍ او ضعیفې وسیله باندې ورتېر شول(۱)، د لرګي په زینه باندې چې بیه یې درې ډالره وه دا حیرانوونکې پېښه څنګه وشوه؟!... په ایمان او ځیرکتیا سره چې پلان، وسله او راز پټول ورسره مل وو، دا ټول شیان اړین وو خو دا هر څه لکه د بدن غړي او ایمان یې روح وو، په (۹٦۷) جګړه کې مونږ دا هرڅه درلودل خو روح پکې نه وو خو اوس ورسره روح هم ملګری شو، دا خورا حیرانوونکي پروازونه وو، شاید دا د هغه پروازونو په څېر وو چې د وروستنۍ جګړې په جریان کې د (نورماندي) په ساحل ښکته شول، بلکې له هغې هم خورا حیرانوونکي وو، زه ګمان

[۱]-د مصر ځواکونو د شپږ ساعته پرلپسې جګړې وروسته د(بارلِو) په نامه دفاعي کرښه چې (۷) متره پلنوالی یې درلود ونړوله او سیناء دښتې ته ننوتل. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم چې په (۱۹۷۳) د اکتوبر په شپږمه د مصريانو پروازونه به د نظامي تاکتيکونو په تاريخ کې وليکل شي چې حربي ښوونځي کې به لوستل کېږي.
په (سيناء) او (گولان)کې زمونږ د پوځونو حيرانوونکو کارنامو ته نړۍ گوته په غاښ پاتې وه ،دوی بايد په رمضان جگړه کې زمونږ له بريا نه بلکې په (۴۸) او (٦۷) جگړو کې زمونږ له ماتې حيران شوي واى، عادتاً د تعجب وړ خو دا وي چې يو کار له داسې چا نه صادر شي چې وړتيا يې نلري لکه د حاتم طائي زوى چې سخاوتمند وي څوک يې ناشنا نه بولي ځکه زوى دپلار نمونه وي، حيرانتيا هلته پيداکېږي چې د حاتم طائي زوى بخل وکړي.
د تعجب وړ خو داوه چې يهود بريالي شول  هاغه يهود چې بې وزلي او رسوايي يې په برخه وه، نه دا چې د فاتحو سوبمندو اولادې برى وموند چې پلرونو يې ختيځ او لوېديځ فتح کړى وو، هاغه چې د نړۍ رهبران او ښوونکي وو، سربېره پردې چې په (۱۹۴۸) او (۱۹٦۷) دواړو جگړو کې نه مونږ برلاسي شو او نه يهود بريا ته ورسېدل، په ناپامۍ سره مونږ کې د يهودو خويونه راغلل، اختلاف، بې زړه توب، راز افشاء کول، پلان نه درلودل او ددښمن مشورو ته غوږ نيول.

★★★

له کله نه چې دا حرکت پيل شوى اسرائيل خورا ذليل شوي، کوچنيان په کاڼو له داسې چا سره جنگيږي چې په پرمختللو او تخريبوونکو وسلو سمبال دي،دوى انگېرله چې دا به لنډ مهاله خوځښت وي لږ وخت به دوام کوي او بيا به سوړ شي، يوه يا دوه ورځې به اوږد شي، خود تمې خلاف په يوې پسې بلې مياشتې ته اوږد شو، مياشتې تېرېدې خو ددې حرکت ځواک په ډېرېدو وو،  داځکه چې دا حرکت يوازې وطني، قومي، د خاورې د راستنولو او اشغال له منځه وړلو لپاره نه دى، دا ټول هغه اهداف دي چې د نړۍ ملتونه پکې شريک دي ، بلکې دا جهاد دى، په هغه مانا باندې چې اسلام راپېژندلى دى، يوازې دالله- جل جلاله- لپاره خپل سر قربانول او يوازې له هغه څخه د بدلې تمه کول، داسې جهاد چې څوک پکې بريا خپله کړي؛ نو هيلې يې پوره او خپلو اهدافو ته رسېږي، او څوک چې شهيد شي نو د ټولې دنيا نه ستره بدله چې د الله رضا او جنت دى ترلاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله -جل جلاله- چې څنګه دې حرکت ته دوام او ځواک وبښه د افغانستان جهاد ته يې هم وبښه؛ ځکه دواړه مقاومتونه د دنيوي اهدافو څخه خالي د الله د خوښۍ لپاره پيل شوي وو، او کوم څه چې دالله -جل جلاله- د خوښۍ لپاره وي هغه دوام مومي.

الله -جل جلاله- دې پر شاه عبدالعزيز- چې ژوره پوهه او په چارو کې يې عميق نظر درلود- ورحميږي: کله چې فلسطين ته د تګ او جګړې لپاره عربي اووه دولتونه چمتو شول نو د نوموړي نظر دا وو چې مونږ بايد فلسطينيانو سره د وسلې او پيسو مرسته وکړو او له يهودو سره جګړې ته يې پرېږدو، خو د نوموړي نظر اوس سم ثابت شو.

دا بې چاره ګان يوازې د ځمکې کانې او خپل لاسونه په واک کې لري، که له دوی سره د يهودانو په څېر، يا د هغې نيمه، يا د هغې څلورمه برخه او يا هم لسمه برخه وسله وای نو آيا يهودان به په فلسطين کې تراوسه پاتې وای؟

يو بل زيرک او ژورليد عربي انسان هم په (۱۹۳۱م) کال کې د حقوقو په پوهنځي کې زمونږ استاد وو چې بيا مسلمان ومړ، کله چې نوموړی په (۱۹۴۷) کې د امنيت شورا رئيس وو او دا مشهوره خبره يې وکړه: (د فلسطين قضيه د امنيت شورا په ورقو کې نه بلکې د فلسطين په خاوره حلېږي).

تاسې خو وينئ چې مونږ د هېواد په کاڼو، د خپلو اولادونو پر متو نږدې ده چې له خپلې خاورې سپي وشړو.

تاسې چې يې د (کاڼو پوځ) نوموئ تراوسه له زوره ندی پرېوتی، ټينګ ولاړ دی، خپل سرونه يې قربان کړل (د سر قرباني ترټولو ستره قرباني ده)،دوی کړی ورځ په خپل ځای ثابت ولاړ دي دوی هيڅ ملامت ندي، ليکن مونږ مسلمانان چې الله- جل جلاله- راباندې ددوي اخوت فرض کړی، پر مونږ يې ددوی کومک لازم ګرځولی مونږ ملامت نه يو ؟

آيا مونږ دوی ځانته پرېږدو چې دکاڼو پر مټ له ټانکونو، توپونو، ټوپکو، اوښکې بهوونکي ګازونو او ددې سترو سترو مشکلاتو مقابله وکړي، آيا مونږ ته به اسماني شريعت ، پوځي آدابو او د غيرت په قواعدو کې دا بس وي چې حالات يې په تلويزيون وګارو، په راديوګانو کې يې واورو ، ورته حيران شو او چکچکې وکړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو پټ غلی احساس دی چې آرام مې نه پرېږدي
په اور مې سوځوي لکه چې خام مې نه پرېږدي
جرأت مې زياتوي دومره په ځان يمه پوه شوی
غافل له خپله حقه او غلام مې نه پرېږدي

★★★

د بري په اسبابو کې يو پوځ دی او بل وسله ده، نو په څه کې ترې مونږ کم يو؟ آيا شمېر مو کم دی ، چمتووالی مو کم ده او که پوهه؟ که شمېر شي نو مونږ، مسلمانان خو زر مليونه يو. يهودان څومره دي؟ که په چمتووالي شي نو له ټولو مسلمانانو سره چې څومره امکانات دي له يهودو په څوچنده ډېر دي، که په پوهه شي نو په مسلمانانو کې دومره پوهان دي چې له ټول يهودي قوم نه ډېر يا ددوی په شمېر دي نو څنګه پر مونږ برلاسي شول؟ څنګه يې له مونږ نه لومړنۍ قبله او د خپل نبي د سپېڅلي سفر کور واخيست؟.دوی خو (لومړی) خپله پر مونږ ندي برلاسي شوي او نه دوی دومره ځواک لري چې پر مونږ برلاسي يا زمونږ برابر ودرېږي، ليکن دوی د هغه چا پر مټ برلاسي شو چې زمونږ په خلاف يې له دوی سره کومک وکړ، پوځي، مالي او د وسلې مرسته يې ورسره وکړه، وسله خو د لوېديځ (د امريکا) وه، خلک د ختيځ (د بولونيا او روسيه) وو،دوی په خپل منځو کې اختلاف درلود خو چې داسلام سره د دښمنۍ نوبت راغی نو يو صف او زمونږ په مقابل کې يو ځواک شول، کله چې دا باغي او سرکشه دولت جوړ شو چې دوی يې د اسرائيلو دولت نوموي نو امريکايان او روسان يې په رسميت پېژندلو کې له يو بل څخه وړاندې کېدل او د زيرېدو مبارکي يې ورته ويله.

(دويم) داچې دوی په خپل ځواک نه بلکې زمونږ د خپل ضعف، اختلاف او ځانځانۍ نه پر مونږ برلاسي شول، کله چې اولادونه څه ګناه او تېروتنه وکړي نو پلار يې ادب ورکوي، (بلاتشبيه) الله - جل جلاله- هم خپل مؤمن بندګان په ځينو ناخوالو له دې امله اخته کوي چې ورته راوګرځي، په فقر، ډار، اقتصادي او بشري ستونزو باندې دوی ازمايي، کله چې دوی بد او له سمې لارې واوړي نو بيداروي يې ترڅو نېک او په سمه لار شي، مونږ هم بد او له سمې لارې واوښتو، الله- جل جلاله- راته امر کړی وو چې په دين ټينګ پاتې شو، د هغه رسۍ کلکه ونيسو، يو جسم وګرځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يو احساس ولري، خواخوږي او عاطفه مو د خپلو ورونو لپاره وي ، سخت دريځي او قهر په دښمنانو ولرو، خو مونږ څه وکړل؟ آيا مونږ يې امر ومانه؟ که له لارې يې واوښتو، خپل حق دين مو د دښمن باطل دين لپاره پرېښود ، مونږ اختلاف وکړ او ډلې ډلې شو، مونږ شدت اوسختي په خپلو ورونو وکړه ، ددښمن پر وړاندې نرم او ضعيف شو، له همدې امله الله- جل جلاله- سزا راکړه چې يوې بوډۍ مېرمن(١) مونږ تهديد کړو او قوم يې چې ذليل ترين امت دی له مونږ نه زمونږ د نبي د سپېڅلي سفر کور واخيسته، بلې هو! مونږ ته الله- جل جلاله- د ذليل ترين امت په لاس سزا راکړه لکه څنگه چې يې زوروړو ته په خورا ضعيف مخلوق عقوبت ورکړ، پداسې حيوان چې نه ليدل کېده، او ټوله لويي يې ورته لمنځه يوړه، او يوه بله مېرمن يې وټاکله چې زمونږ په نوي زره بنديانو لکه د صحرا په زمريانو يې لاس کېښود، مونږ سربېره پردې چې اووه سوه مليونه نفوس لرو خو بيا مو هم د هغوی د ازادېدو وس نه درلود.

**درنو ورونو**! دا جزا وه  لکه نرم زړی پلار چې خپلو اولادونو ته جزا ورکوي.

آيا دا حالت به تل وي؟ هيڅکله هم نه، زه په پوره ډاډ سره وايم او دا يو واقعيت دی .

مونږ په مکتب کې لوستي وو چې کوم شی د طبيعي شيانو مخالف راشي هيڅکله تل نه پاتې کېږي نو آيا تاسې دا طبيعي امر بولئ چې پر باطل ولاړ يو کوچنی دولت چې زمکه يې غصب او استوگن يې ترې شړلي دي، که له پوځيانو ډک يو معسکر هم وگرځي ، که د غښتلو برجونو يوه کلا هم وگرځي ،که استوگن يې دوه درې مليونو ته هم ورسېږي چې لا تراوسه ندي رسېدلي(٢)، آيا شونې ده چې دداسې يو سمندر په مينځ کې ژوند وکړي چې د زمکې دريمې برخې ته پراخه وي، زر مليونه خلك پکې وي چې ټول يې دښمنان وي او دا دښمني هم ورسره ددوی له زور زياتي له امله لري نه داچې بد يې گڼي او يا پرې تېری کوي، که دوی لس ، شل ، اويا او يا اتيا کاله ژوند وکړي نو آيا تل به دلته پاتې وي؟ اويا، اتيا کاله د امتونو په عمرونو کې کوم ارزښت لري؟ پرتگالي استعمار خو په منگوليا او موزنبق کې پنځه سوه کاله پاتې شو آيا پرتگالي استعمار په منگوليا او موزنبق کې دوام وکړ؟، د فولينډ هيواد څو وارې تجزيه شو گاونډيانو يې تجزيه شوې برخې وويشلې خو بېرته يو هيواد وگرځېد، په شام باندې هم داسې چا چپاو وروړی وو چې له يهودو يې  شمېر

١-گولدا مائير د اسرائيلو لومړۍ وزيره (ژباړن)

٢-دا د هاغه مهال ارقام دي، اوس ددوی شمېر اووه مليونه دي (ژباړن).

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورا ډېر وو(۱)، غښتلی پوځ او ښه امکانات يې هم درلودل، تر يو وخته پورې يې دولتونه هم درلودل خو دا دولتونه ډېرته ونړېدل او دشام زمکه ډېرته خپلو څښتنانو لاسته ورغله، آيا بيت المقدس نږدې يوه پېړۍ د صليبيانو په واک کې نه وو آيا په قدس باندې ددوي واک د تل لپاره پاتې شو؟.

★★★

داچې مادي ځواک خورا اړين دی او الله -جل جلاله- هم موږ ته امر کړی دی ترڅو اسباب يې برابر کړو فرمايي چې: ﴿ وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ ﴾او تاسې تر خپلې وسې ډېر زيات طاقت دهغوی د مقابلې لپاره چمتو کړئ.(۲)

دلته د (قوه) لفظ نکره راغلې ده چې هر ډول قوت ته شامل دی هغه که اوس وجود لري او که به راپيداکېږي، موږ هر هغه څه چمتو کوو چې توان يې لرو او کوم څه ته چې د رسېدو وس لرو، ليکن بری پدې پورې ندی تړل شوی او نه به حتماً پدې راځي ، الله -جل جلاله- موږ ته ويلي دي چې دا محض د ډارولو لپاره دي﴿ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ. ﴾ترڅو چې په دې وسيله د الله-جل جلاله- پر دښمنانو او خپلو دښمنانو هيبت راولئ.(۳)

﴿ وَمَا النَّصْرُ إِلاَّ مِنْ عِندِ اللّهِ ﴾او مرسته خو يوازې دهماغه الله- جل جلاله- له لورې کېږي.(٤)

دا زيری او ډاډ دی: ﴿ وَمَا جَعَلَهُ اللّهُ إِلاَّ بُشْرَى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِ وَمَا النَّصْرُ إِلاَّ مِنْ عِندِ اللّهِ ﴾داخبره الله د دې لپاره درته کړې ده چې تاسې خوشاله شئ او ستاسې زړونه پرې ډاډه شي، برلاسي او مرسته هر څه د الله لخوا دي.(٥)

[1]-د صليبي جګړو پر مهال چې صليبي لښکرو شام ونيو او دولتونه يې پکې جوړ کړل.

[2]- (سوره انفال: ٦٠)

[3]- (سوره انفال: ٦٠)

[4]- (سوره انفال: ١٠)

[5]- (سوره ال عمران: ١٢٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللّهِ ﴾ ډېر ځلې الله -جل جلاله- دهغې ډلې مرسته کوي چې شمېر یې کم او د پام وړ وسله هم نلري ډېر ځله داسې شویدي چې یو وړوکی ټولی د الله- جل جلاله- په امر پر یوې لویې ډلې برلاسی شوی دی.(۱)

﴿ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ﴾له دې نه مخکې د بدر په جګړه کې الله- جل جلاله- له تاسې سره مرسته کړې وه په داسې حال کې چې په هغه وخت کې تاسې ډېر زیات کمزوري وئ.(۲)

﴿ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا ﴾او د حنین د غزا په ورځ (به تاسې د هغه ملاتړ لیدلی وي) په دې ورځ تاسې دخپل شمېر په زیاتوالي غره وئ خو هغه ستاسې هیڅ په کار رانغی.(۳)

د بري لپاره ترټولو غښتلې وسله ایمان دی، تردې چې په باطلو معبودانو باندې ایمان هم خپل څښتن ته لنډمهاله بری ورکوي لکه د ویتنام خلکو چې د نړۍ په ستر ځواک (امریکا) باندې بری وموند، په تېره بیا چې ایمان حق وي، په الله- جل جلاله- ، ملایکو، کتابونو او رسولانو باندې ایمان وي نو بیا خو ورسره کامل بری مل وي او دلیل یې روسیه او افغانستان دی، د جسم په دننه کې یو شی دی چې (پټ ځواک) نومېږي، دا ځواک په سختۍ، اضطراري حالت او د ناهیلۍ پر وخت څرګندېږي، پیشو چې کله ناهیلې شي نو په لېوه هم برید کوي، بلکې چرګه هم چې کله دخپلو بچیو ساتنه کوي نو په چیچونکي سپي جرأت کوي، یو تن چې خپل کور ته ستړی ستومانه او وږی راستون شي یوازې د چوکۍ په لټه کې وي چې ځان ورواچوي خو چې په کور کې بل شوی اور ووینې او یا کوچنیان په خطر کې وګوري نو ستړیا او لوږه یې له یاده وځي او خپل ټول ځواک په کار اچوي، دا ځواک له کومه شو؟ دا هماغه (پټ ځواک) دی، هغه تن چې د سل متره منډې وهلو وس نلري که یو لېوه او یا وسله وال دښمن ورپسې شي نو نیم ساعت هم منډه وهي، د ایمان پر مټ دا پټ ځواک څرګندېږي لدې امله په تمامه مانا عزت د الله،رسول او مؤمنانو لپاره دی.

★★★

---

۱- (سوره بقرة:۲۴۹)

۲- (سوره ال عمران: ۱۲۳)

۳- (سوره توبه: ۲۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خبرونه چې مونږ يې د افغانستان د مجاهدينو په هکله اورو، او فلسطين کې چې کوچنيانو د تشو کاڼو پر مټ څه وکړل ددې غوره بېلګې دي.

يو غل چې وسله هم په لاس لري او ويده کېدل غواړي خو له ډېرې ويرې به هيڅکله ونشي کولای چې خوب ته تن کېږدي، نو يهود به څنګه په امن او ډاډ سره په فلسطين کې واوسېږي پداسې حال کې چې مونږ ورته په کمين کې ناست يو؟ ،کله چې په مونږ کې نوی ماشوم وزيږيږي نو د مور له شيدو سره سم ورته تلقين ورکوو چې ددوي سره جنګ ته چمتو شي او خپله خاوره له دې پليتۍ نه پاکه کړي.

مونږ له يهودو په شمېر کې خورا ډېر يو، له مونږ سره دومره علم او پوهه ده چې ددوی په څېر امکانات برابرولی شو، که له مونږ سره ددوی په څېر امکانات هم نه وي نو بيا هم له مونږ سره هغه څه دي چې له دوی سره نشته له مونږ سره حق دی چې ايمان پرې لرو او پر وړاندې يې درېږو، له دوی سره يوازې باطل دی، په فلسطين کې ددوي حق له کومه شو؟ نه دوی او نه يې پلرونه دلته استوګن وو، نه يې کومې اړيکې ورسره شته، نه يې دين سره يو دی، نه يې ژبه يوه ده، نه ورسره دوستي لري او نه يې خير غواړي.

مونږ سره لدې وړاندې الله -جل جلاله- ژمنه کړې ده چې بری ستاسې په برخه دی ، آيا د (بلفور) ژمنه به دوی ته کومه ګټه ورکړي پداسې حال کې يې د فلسطين زمکه ورکړه چې نه يې خپله واک درلود او نه يې د استوګنو وکالت کاوه، د (بلفور) ژمنه به د الله -جل جلاله- د ژمنې پر وړاندې کوم ارزښت ولري؟﴿ وَقَالَ الشَّيْطَانُ لَمَّا قُضِيَ الأَمْرُ إِنَّ اللّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدتُّكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ ﴾او کله چې فيصله وکړای شي نو شيطان به ووايي: حقيقت دادی چې الله- جل جلاله- له تاسې سره کومې ژمنې کړې وې هغه ټولې ريښتينې وې او ما چې له تاسې سره څومره ژمنې وکړې له هغو نه مې يوه هم درسره پوره نکړه.(۱)

پدې اسلامي خاوره داسې وخت هم راغلی وو چې له اوسنۍ وضعې پکې ډېر اختلافونه، ضعف او ځان ځاني حاکمه وه، د صليبي جګړو پر مهال، کله چې په سوريه کې د ښارونو د شمېر په اندازه دولتونه وو، د ګډوډۍ وضعه قائم وه، (حماة) ته نږدې په (شيزر) کې يو دولت وو، (ديرالزور صلخد) سيمه کې بل دولت وو، دسمندر غاړه ټوله د صليبيانو په واک کې وه لومړی عمادالدين

---

[۱]- (سوره ابراهيم: ۲۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته نورالدين او وروسته صلاح الدين راپورته شول، د اسلام بيرغ يې رپاند کړ او د محمدصلى الله عليه وسلم په توره يې دوى تس نس کړل تردې چې ځان ځاني په يووالي، ضعف په قوت او ماته په بري بدله شوه او اسلام په هر وخت او ځاى کې داسې کوي.

★★★

زمونږ جګړه خو له يهودو سره نده، يهود څه وخت د جګړې جوګه شول؟ آيا هغه وخت چې دوى ته خپل رسول (موسى عليه السلام) وويل: وجنګيږئ ،دوى وويل: ته او ستا رب دې لاړ شي او وجنګيږئ، او که هغه وخت چې دوى يې فتحې ته راوبلل الله -جل جلاله- ورته اسباب چمتو او دروازه هم پرانيستې وه خودوى لکه د ډاربدلو ميږو په څير ولړزيدل او ويې ويل:﴿ قَالُوا يَا مُوسَىٰ إِنَّ فِيهَا قَوْمًا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدْخُلَهَا حَتَّىٰ يَخْرُجُواْ مِنْهَا فَإِن يَخْرُجُواْ مِنْهَا فَإِنَّا دَاخِلُونَ ﴾ هلته خو ډېر زورور خلك اوسيږي، مونږ به هيڅکله هلته لاړ نشو ترڅو هغوى له هغه ځايه ونه وځي، هو! که هغوى ووتل نو مونږ د ورننوتلو لپاره چمتو يو. (۱)

دا ددوي ميراني دي، دوى داسې څوك خوښوي چې ددوي پرځاى وجنګيږي، داسې څوك خوښوي چې دښمن له کلا نه وباسي اودوى بريمن ورننوځي، ددوى حالاتو تغير ندى کړى ،دوى د پخوا په څير اوس هم بې زړه دي،دوى د نورو په وسله جنګيږي او د نورو په څواك غوړې وهي.

د فلسطين قضيه به هيڅکله سړه نشي؛ ځکه د هر مسلمان په زړه کې د عقيدې په حيث وجود لري، آيا تاسې اوريدلي يا لوستلي دي چې زرمليونه خلك دې په زړه کې يوه عقيده ولري او هغه دې مړه شي؟ خلك د عقيدې په لاره کې مري خو هيڅکله عقيده د انسان د ژوند له امله نده مړه شوې، دا د (لويديځې غاړې) قضيه نده، ترڅو پورې به ورته دا نومونه اخلئ؟ دا فلسطين دى، يهود غواړي چې د فلسطين نوم زمونږ له ياده وباسي نو تاسې ورسره پدې کې مرسته مه کوئ.

د فلسطين قضيه يوازې د فلسطينيانو او يوازې د عربانو نده ، تاسې ورته په څه د عربو قضيه واياست په عربو کې خو داسې وګړي هم شته چې له دې نظر سره توافق نلري او نه اسلام دين ته معتقد دي، داسې څوك هم پکې شته چې له دښمن سره ولاړ دي نو ولې يې اسلامي قضيه نه بولئ؟ که

[1]- (سوره مائدة: ۲۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې يې دالله -جل جلاله- په لار کې جهاد، د بيت المقدس او د مبارکې ځمکې دفاع وبولئ نو د ټولې اسلامي نړۍ د مرستې لاس به دراوږد شي، نو ولې دا لاسونه نه راخپلوئ چې د شريک دښمن پر وړاندې يو موټی شئ؟ .

الله -جل جلاله- فرمايي: ﴿إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ﴾ که تاسې د الله -جل جلاله- له دين سره مرسته وکړئ نو هغه به له تاسې سره مرسته وکړي.(۱)

نو مرسته د الله -جل جلاله- طاعت پورې تړلې ده کله چې مونږ له طاعت نه لرې شو مرسته هم ورکه شوه ، کله چې مونږ لږه اندازه بېرته راوگرځېدو نو (۱۹۷۳م) په رمضان جگړه کې مرسته هم راغله.

★★★

مونږ نعرې وهلې (عظمتونه د عربو عظمتونه) خو د عربوعظمت هيڅ گټه رانکړه ؛ ځکه د عربو عظمت خو په سمه مانا هغه ورځ ژوندی شو چې محمد عربي وزيږېد، که محمدصلی الله عليه وسلم نه وای نو د عربو شعري قصيدو، د غمدان قصر او قبائلي جگړو به چېرته هم عظمت لاسته نه وای راوړی ، نه به يې ياد تلپاتې وای او نه به يې هغه ارزښتونه لاسته راوړي وای چې روم، قسطنطينيه او د کسری مدائن پرې هم خبر نه وو، کله چې محمدصلی الله عليه وسلم له ځان سره اسلام راوړ نودوی يې د زمکې سرداران ، ښوونکي او د بشريت غوره بېلگې وگرځولې ، تردې چې کله د رمضان جگړه وه او مونږ هغه پخوانۍ خوږه نعره پورته کړه (الله أکبر) نو د بريا پر لار مو پلونه کېښودل.

کله به چې اسرائيلو پر مونږ تېری وکړ نو مونږ به د (امنيت شورا) ته پناه يوړه، لکه په مکتب کې چې يو کمزوری زده کونکی له زورور زده کونکي نه وهل وخوري نو مدير ته ورشي چې: «فلاني ووهلم»، مدير وهونکي زده کونکي ته ووايي چې:« بچيه دا ښه کار ندی ملگری دې مه وهه» خو په پټه ورته سترگک ووهي چې: مه ډارېږه زه درسره يم هيڅ هم درته نشي ويلی. ته به وايې چې (امنيت شورا) ددې لپاره دايره شوې ده چې يوازې د اسرائيلو امنيت ټينگک کړي، او دا زده کونکی چې د مدير نازولی دی ، پر نورو يې غوره بولي او پام پرې کوي ، نورو مشرانو زده کوونکو ته هم

۱ - (سوره محمد: ۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس اچوي او هغوی د مدیر له ویرې ورته څه نه وایي خو چې کله له حده تېر شي، د هغوی سینه تنګه او د صبر کاسه یې ډکه شي نو بیایې نیسي غوږونه یې باسي، مخ یې شوکوي په لغتو او سوکانو یې وهي ورته وایي چې: څه اوس لاړ شه او شکایت وکړه.

★★★

له دې هرڅه وروسته زه یو ګوښه سړی یم. د ځوانۍ ټول وخت مې په کور کې تېر کړ، سروکار مې له کتابونو سره وو، خو کله چې مې همت ځواب راکړ، عزم مې کمزوری شو او د عمر په نوي یمو کلونو ورننوتم نو هرڅه راباندې درانده شول.

یو ځل په کال (۱۹۵۳م) په قدس کې اسلامي عام کانفرانس جوړ شوی وو ، د ټولې اسلامي نړۍ نماینده ګانو پکې ګډون کړی وو او ماته یې وخت راکړ چې د پیل خبرې وکړم ، ما په هغه خبرو کې وویل:

الله -جل جلاله- قران کریم نازل کړی او ساتنه یې په خپله غاړه اخیستې ده، راتلونکی د اسلام دی او پدې کې کوم شک نشته؛ ځکه چې د الله -جل جلاله- وعده حقه ده او هغه د خپلې وعدې خلاف نه کوي، که مونږ خپل دین ته راوګرځېدو په جنګ او سوله کې مو د ژوند قانون جوړ کړ؛ نو الله -جل جلاله- به زمونږ په لاسو مرسته وکړي بری به مو په برخه شي، د دنیا او آخرت عزتونه به ترلاسه کړو، او که داسې مو ونکړل نو په بدل کې به نور خلک راولي ، مرسته او بری به د هغوی په برخه شي ،مونږ به لکه د بې وزله یهودو په څېر-نه به د دین او نه به د دنیا شو- الله -جل جلاله- مو دې له داسې حالت نه وساتي.

پای

دامام ابویوسف عالي دارالعلوم ببزاکمالاتي جلال اباد




د فلسطين هېواد اصلي نقشه چې تل به زمونږ په زړونو کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






د وخت په تېرېدو د اسرائیلو اشغال شوې سیمې.

په انځورونو کې توره ساحه د فلسطین او سپینه ساحه د اسرائیلو د اشغال لاندې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخذليکونه


۱. پال فنډلي .(۲۰۰۹م). اسرائيل کی ديده و دانسته فريب کاريان ، خپرندوی: ملّي پبلي کيشنز، نوی دهلي-۲۵.

۲. د/ علی الطنطاوي، قصّتنا مع اليهود

۳. م.إسماعيل عبد اللطيف الأشقر أ.مؤمن محمد غازي بسيسو(ذو الحجة/۱٤۲٤هـ-فروري/۲۰۰٤م). الاغتيالات الصهيونية ضد رموز الشعب الفلسطيني، خپرندوی: مكتبة الشاملة.

٤. محمد احسن بټ .(۲۰۰۷م). جديد اسرائيل کی تاريخ ، خپرندوی: علی فريد پرنټرز لاهور.

٥. مرتضي شيرودي .(بهار ۱۳۷۸ ...). فلسطين و صهيونيزم، خپرندوی:مرکز تحقيقات اسلامي سپاه.

٦. ورلډ فيکټ بک

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**